# کـورني مقـررات

**سـریزه**

مونږ د منلو دغه مرکز ته ستاسي هرکلی کوو .

په بلجیم کي له مهاجرینو او د اړو بهرنیانو له ځینو ځانګړو کټګوریو سره عملی مرسته ، نه مالي مرسته ، ترسره کیږي . دغه امداد د اوسیدو د ځای ، خوراک ، جامو ، روغتیایی ، ټولنیزو او سایکولوژیکو (رواني) لاربښوونو او د ورځني جیبپ خرڅ په بڼو تر سره کیږي . دغه راز تاسي د حقوقي امداد ، روزنې ته د لاس رسي او په خپله خوښه د بیرته ستنیدو پروګرام ته د لاس رسي حق لرئ . دغه مرکز په یوه انساني بڼه تاسي ته هرکلی خپله دنده پولي او ستاسي د ټولنیزي لاربښووني ضمانت کوي .

له دغو خدمتونو څخه د ګټي اخیستني لپاره دا ضروري ده چي تاسي په دې مرکزکي استوګنه ولرئ . که تاسي یو پناه غوښتونکی یاست او پریکړه مو کړې وي چي بیرته ستانه شي ، بیاهم ستاسی د روغتیایي امداد حق خوندي دی .

په یوه مرکز کي ستاسي د استوګني او د ورپسي لاربښوونو حق ، هرومرو په دې مانا نه دی چي تاسي په بلجیم کي د استوګني د اجازې حق لرئ .

ددې مقرراتو مقصد تاسي ته ستاسي د استوګني په موده کي د یوه هوسا ټولنیز ژوند او هراړخیز خوندي توب برابرول دي . په مقرراتو کي د لاندنیو ټکو بیانول شامل دي :

1. ستاسي حقوق او د هغو پلي کیدل .
2. د مرکز دنني قواعد .
3. ددغو قواعدو به پلي کولو کي د پاتې راتلو په صورت کي د سزاګانو د ټاکلو کړنلاره ، او همدغه شان په مرکز کي د نظم ، خوندي توب او سولي د تضمین او د اړتیا په صورت د هغو د بیا ترمیم د کړنلارې په هکله د اړینو ګامونو اوچتول .
4. د شکایتونو او اپیلونو د څیړلو په اړوند کړنلارې .

.

په دی سند کی به تاسی له هغو مقرراتوسره اشنا شی چی د فیدازیل په هر مرکز (کمپ) کی نافذ دی . پر دی برسیره د هغو مقرراتو یادونه هم شویده چی د <u>بیتی شاتو (کوچنۍ کلا)</u> په مرکز کی نافذ دی .

که تاسی غواړئ چی زمونږ د مرکز د فعالیت په تړاو معلومات ترلاسه کړئ ، نو لطفاً زمونږ د هری څانګی د کارپه مهال ویش (چی د هری څانګی پر دروازه لګول شوی) او همدغه شان د هغوپه اړوندو مقرراتو ځانونه وپوهوئ . تاسی باید هغو لاربښوونو ته هم چی د هری څانګی د کارکوونکو له خوا درته کیږی (لکه ملاقاتونه چی یوازی د مخکینی وخت په ټاکلو سره ترسره کیږی، ملاقاتونو ته ستاسی ورتګ ، او داسی نور) هم پاملرنه وکړئ .

## ستاسي حقوق څه شی دي او هغه څنګه پلي کولای شئ؟

### 1.1 بنسټيزې اړتياوې
مرکز تاسي ته خواړه او د نظافت توکي درکوي . مرکز به دغه راز په خپلو حدودو کې جامې هم برابروي .

په پيټي شاتو کې د خواړو (غذا) انتظام:

که ستاسی په کوټه کی پخلنځی (اشپزخانه) شتون ونلری ، نو کولای شی چی په ريسټوران کی ډوډئ وخوری . تاسی نه شی کولای چی هيڅ ډول خواړه ريسټوران ته راوړی او يا د ريسټوران کوم سامان بهرته يوسی .

د يوی کورنی ټول غړی بايد د ډوډئ خوړولو لپاره په ګډه ريسټوران ته ورشی . هغه ماشومان چی په ښوونځی کی وی او يا د کورنی کوم غړی چی د خپلی پناه غوښتنی د کړنلاری په تړاو په مرکز کی حاضر نه وی ، له دی چاری مستثنی دی . که تاسی د کوم دليل په وجه نشئ کولای چی د ډوډئ په مهال حاضر اوسی ، کولای شئ چی له ځانه سره د وړل کيدونکو خواړو (packed lunch) غوښتنه وکړی . ستاسی مرستندوی کارکوونکی کولای شی په دی اړه تاسی ته زيات معلومات درکړی .

که ستاسی کوټه د پخلنځی لرونکی وی ، نو بيا حق نلرئ چی له ريسټوران څخه استفاده وکړی .

### 1.2 ټولنيزې لارښووني
مرکز ته ستاسي له رارسيدو سره به يو لارښود د ټولنيز کارکوونکي په بڼه کې ستاسي لارښوونه په غاړه اخلي . دغه کس ستاسي د تماس شخص (Contact Person) شميرل کيږي . هغه به تاسي ته اسناد او مشوره درکوي او درته به په ټولنيزو چارو کې لارښوونه کوي ، او د اړتيا په صورت کې به تاسي په مرکز کې دننه يا ورڅخه بهر ادارو ته ورپيژني . هغه به د مرکز په چوکاټ کې ستاسي د ځانګړو اړتياو ارزونه کوي او ستاسي د په خپله خوښه ستنيدو په اړه به درته معلومات هم درکوي . هغه به ستاسي ځانګړې دوسيه ترتيبوي او ساتي به يې . که تاسي ته کومه اړتيا درپيښيږي نو ټولنيز کارکوونکي او يا د هغه له همکارانو څخه يوه ته به مراجعه کوئ .

ماشومان په پيټي شاتو کې :

که ماشومان په مرکز کی هم وی ، د هغوی مسؤوليت دميندو او پلرونو په غاړه دی . تر ۶ کلونو کوچنی ماشومان ، که څه هم د لوبو په کوچنيو ميدانونو کی وی ، بايد تل د خپلو ميندو او پلرونو تر پام لاندی وی . د لوبو ميدانونه يوازی تر ۱۲ کلونو ښکته ماشومانو لپاره دی .

مور او پلار بايد د هغوی ماشومانو ته د جوب خرڅ د پيسو د ورکولو او يا کومی ځانګی ته د هغوی د ورتګ پرمهال له هغوی سره ملګری وی . ستاسی مرستندويه کارکوونکی به په دی اړوند تاسی ته نور معلومات درکړی .

له پندوس سره لوبی او بايسکل ځغلول يوازی په حويلی کی مجاز دی .

### 1.3 ستاسي د ماشومانو زده کړه او ښوونځی
په بلجيم کې ماشومان د دوه نيم کلنۍ له عمر څخه د وړيا زده کړې حق لري . په ښوونځي کې زده کړه له ۶ کلنۍ څخه تر ۱۸ کلنی پورې اجباري ده .

تاسي د خپلو ماشومانو د زده کړې او ښوونځي ته د حاضريدو په اړه مسؤول ياست . مرکز په ښوونځي کې د ماشومانو دداخليدو په اړوند له تاسي سره مرسته کولای شي او دهغوی د کورنيو دندو د ترسره کولو په هکله تاسي ته د مرستې پيشنهاد کوي .

که تاسي غواړئ چی د <u>پيټي شاتو</u> د روغتيايي پاملرنی له خدمتونو څخه برخمن شی ، بايد لومړی د يوی نرسی له خوا معاينه شی . د نری رنځ(توبرکلوز) د ناروغی منظمه معاينه اجباری ده .

### 1.4 روغتيايي مراقبت
د روغتيايي مراقبت انتظام د مرکز د روغتيايي څانګې او يا د عمومي ډاکټر له لیارې چې د مرکز له خوا ټاکل شوی دی ، کيږي . ستاسي نوره تداوی، او د اړتيا په صورت کې متخصص ډاکټر ته ستاسي د ورپيژندلو چاره هم د همدغه څانګې له خوا ترسره کيږي . له مرکز نه بهر روغتيايي لګښتونه يوازې د مرکز په اجازه ورکول کيږي .

که تاسي پټيلي وي چي د مرکز د روغتيايي څاکي له جوړښت نه بهر کوم بل ډاکټر ته مراجعه وکړئ ، په دي اړوند ټول لګښتونه هم بايد په خپله غاړه واخلی .

**1.5 سايکولوژيکه (رواني) لارښوونه**
تاسي کولای شی د اړتيا په صورت کي رواني مرسته ترلاسه کړئ . په دغه اړوند د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کولای شئ له خپل ټولنيز کارکوونکي يا روغتيايي څانګو او يا له ډاکټر سره اړيکی ټينګ کړئ .

**1.6 حقوقي مرستــــــه**
تاسي د وړيا حقوقي مرستي حق ارئ . دغه مرسته د مشورې ، حقوقي معلوماتو او سپارښتنو او د يو حقوقپوه (وکيل) د مرستي په بڼو ترلاسه کيدی شي . مرکز په دغو مواردو کي له تاسي مرسته کوي .

تاسی په بيټی شاټو کی يوازی او يوازی د خپلی پناه غوښتنی د کړنلاری په تړاو ټليفون کولای شی . د زياتو معلوماتو لپاره خپل مرستندويه کارکوونکی ته مراجعه وکړئ .

**1.7 ټريننګ (زده کړه)**
زده کړه او ټريننګ د شخص د فردي وړتيا له مخي په مرکز کي ورکول کيږي .

د BIZZI ټيم په بيټی شاټو کی ستاسی د مرستی لپاره شتون لری .

**1.8 فعاليتونـــه**
تاسي ته به په تفريحي فعاليتونو (لکه د ورځي له خوا ګرزيدني ، سپورټ ... اونورو) کي دبرخي اخيستني لپاره چي د مرکز له خوا ورته سازمان ورکول کيږي ، بلنه درکول کيږي .

د BIZZI ټيم په بيټی شاټو کی ستاسی د مرستی لپاره شتون لری .

**1.9 ورځنــــــی جيب خرڅ**
تاسي د يوه ورځني جيب خرڅ د ترلاسه کولو حق لرئ چي اندازه يې د مقرراتو له مخي ټاکل کيږي او په اووه نيزه ورکول کيږي .

په بيټی شاټو کې تاسی ته ستاسی ورځنی پيسی ، ستاسی د خواړو ټکټ (د هغو استوګنو لپاره چی په کوټه کی يی پخلنځی شتون لری) او د سه شنبی په ورځو ستاسی د ټولنيز خدمت په وړاندی پيسی درکول کيږی .
هغه استوګن چی دکوم معقول عذر په وجه په دغه ورځ حاضر نه وی ، کولای شی خپلی پيسی د پيسو د ورکړی د ټاکلی ورځی په سبا ماسپښين ترلاسه کړی .
هغه کسان چی له کوم موجه عذر پرته غايب وی، خپلی پيسی په راتلونکی اووه نی کی ترلاسه کوی ، په دی شرط چی دغه ځنډ له دوو اووه نيو څخه زيات نه وی . هغه پيسی چی د دوو اووه نيو په ترڅ کی ترلاسه نه شی ، تر هغه وروسته نه ورکول کيږی . د خوړو ټکټونه يوازی د راروانی اوونی لپاره ترلاسه کيدلای شی . تر دوو اووه نيو وروسته د هغو ترلاسه کول امکان نلری . که تاسی (له مرکز څخه) د خپل تګ وروسته د ورځنی جوب خرڅ او يا د کار په وړاندی د پيسو مستحق ياست ، دغه پيسی به تاسی ته د مرکز اويا هغه نوی مرکز له خوا چی تاسی ورته ورليږل کيږئ ، درکړل شی .

**1.10 ټولنيــز خدمتونه**
د مرکز په دننه يا بهر کي د مرکر د هستوګنو په ګټه او يا د مرکز له خوا د په لاره اچول کيدونکو فعاليتونو په چوکاټ کي يو شمير دندې ترسره کيدای شي چي د چاپير ماحول سره ستاسي د بلدتيا او انطباق په چاره کي ګټور واقع کيږي. ددغه شان دند و د ترسره کولو په وړاندې به تاسي اضافي ورځنی جيب خرڅ ، چي له قانوني حدودو څخه زياتی ونکړي ، ترلاسه کوئ .

. که تاسی غواړئ چی په پیټی شاتو کی له ټولنیزو ځانګو (خدمتونو) څخه استفاده وکړئ ، په دغه موخه باید د BIZZI له دفتر سره اړیکی ټینګی کړئ . دغه کار د یو څو ساعتونو ټرینګ او تر هغه وروسته د خوندیتوب (مصوونیت) د مقرراتو په اړه د یوی ازموینی پر بنسټ ترسره کیږی . کیدای شی تاسی ته د مرکز په بیلابیلو ځانګو کی د موقتی دندو وړاندیز وشی .
تاسی کولای شئ چی په میاشت کی زیات نه زیات ۱۲۵ یورو ترلاسه کړئ . په دغو پیسوکی ستاسی ورځنی جوب خرڅ هم شامل دی .

## 2. د ټولنیز ژوندانه لپار کوم قواعد موجود دي؟

په آرامۍ سره د مرکز د چلیدو لپاره ستاسي مرسته اړینه ده . د یوې ښې ټولنې لپاره د یوبل د ازادۍ درناوی ضروري دی . له دې کبله په مرکز کې ټول هستوګن کسان باید د ټولو قواعدو درناوی وکړي .

### 2.1 د مرکز چاپیریال او ګاونډیان

مرکز د استوګنې په چاپیریال (ګاونډیان ، کورونه او کلي) کې پروت دی چې باید ورته درناوی وشي .

### 2.2 مظاهـــــرې

له تاسي څخه غوښتنه کیږي چې په هیڅ یو داسې اقدام یا پروګرام کې چې د مرکز د نورمال ژوندانه د ګډوډولو سبب کیږي ، برخه وا نخلی .

### 2.3 ودانی او ملحقه سامان آلات

ځانګړې خونې او ګډ ځایونه او د هغو اړوند سامانونه (چیرکټونه ، دورځنې استعمال شیان ... او داسې نور) ستاسې د کاراخیستنې لپاره موجود دي . له تاسې نه غوښتنه کیږي چې نوموړي شیان په درناوي سره وکاروئ او په ښه حالت کې یې وساتئ .

پیټی شاتو ته ستاسی د رارسیدو په مهال به تاسی ته یوه کوټه درکړل شی . تاسی وروسته خپله کوټه نشئ بدلولای . که تاسی ته کلپ درکړل شوی وی ، باید له هماغه کلپ نه کار واخلئ . تاسی نشئ کولای چی د هغه پرځای خپل کلپ استعمال کړئ .
په کومه ورځ چی له مرکز څخه روانیږئ ، مونږ له تاسی غوښتنه کوو چی خپله کوټه پاکه کړئ او د سهار په ۱۰ بجو ورڅخه ووزئ .

### 2.4 ترمیـم / ضمانت (ګرانټي)

که تاسې په مرکز پورې اړوند کوم شي ته زیان ورسوئ ، نو اړ یاست چې هغه ترمیم کړئ .

ستاسې د کوټې د کِلي او یا دبل کوم شي په وړاندې چې تاسې یې له مرکز څخه په پور اخلئ ، کیدای شي له تاسې څخه د ضمانت غوښتنه وشي . دغه ضمانت له مرکز څخه ستاسې د تلو اویا د پور کړی شویو توکو د بیرته سپارلو پر مهال تاسې ته درکول کیږي .

### 2.5 د نورو خلکو شتمني او شخصي شیان

د نورو خلکو شتمنیو او شخصي شیانو ته درناوی وکړئ . ستاسې شخصي شتمنئ ته د زیان رسیدو او یا د غلا په صورت کې مرکز مسؤلیت نه لري .

که په پیټی شاتو کی په خپله کوټه کی قیمتی شیان (پیسی ، ګاڼی) ساتئ ، د هغو مسوولیت ستاسی پرخپله غاړه دی . کارکوونکی دا اجازه نلری چی ستاسی لپاره ددغو توکو ساتنه وکړی . دکوم شی د غلاکیدو په صورت کی کولای شئ پولیسو ته خبر ورکړئ .

### 2.6 نظـــــافت

له تاسې څخه غوښتنه کیږي چې په مرکز کې نظم او نظافت ته پاملرنه وکړئ . تاسې د خپلې کوټې د پاکوالي مسؤولیت پخپله په غاړه لرئ .

په پیټی شاتو کی ستاسی د کوټی ترتیب او تنظیم په منظم ډول د مرکز د کارکوونکو له خوا پلټل کیږی .
که په کوټه کی مو پخلنځی نه وی نو د خوړو د پخولو اجازه نلرئ . تاسی په کوټه کی یوازی نه فاسدیدونکی توکی چی نیټه یی تیره نه وی او په یخچال کی ایښودلو ته اړتیا ونلری ، په دی شرط چی په خپلوپاکټونو کی وی، ساتلی شئ . هغه میوی چی د خرابیدو نخښی پکی راڅرګندی شوی وی، باید په زباله دان کی واچول شی . که په کوټه کی یخچال لرئ ، باید خوراکی توکی په مخصوص پلاستیک یا المونیمی کاغذ (زرورق) کی تر پیچلو وروسته یی په هغه کی وساتي .

## 2.7 خونديِ توب

مونږ له تاسي څخه هيله کوو چې د اور د مخنيوي او د خونديِ توب قواعدو ته درناوی وکړئ او د اور د څرک لګولو او ورسره د مبارزې وسايلو ته زيان ونه رسوې .
په کوټه کې د خوړو پخول په کلکه منعه دي ، مګر دا چې په دې اړوند د مرکز څرګنده اجازه ترلاسه شوې وي .

په پيټي شاتو کی پخلی (اشپزی) يوازی په هغو کوټو کی مجاز دی چی پخلنځی ولری .
ستاسی په کوټه کی يولږځه ځای ستاسی د سامان د ايښوولو لپاره شتون لری .
له تاسی څخه غوښتنه کيږی چی له مرکز څخه د روانيدو په مهال خپل ټول شخصی سامان له ځانه سره وباسئ . د اړتيا په صورت کی ستاسی سامان تر ۱۰ ورځو پوری په مرکز کی ساتل کيدلای شی .
د نظافت او خونديتوب د دلايلو په وجه ، په کوټه کی د ځينو توکو ساتل جواز نلری (لومړی ګڼه ضميمه وګورئ) .

## 2.8 خصوصي ژوند او فاميلي ژوند

د نورو استوګنو د خصوصي ژوند او فاميلي ژوند درناوی وکړئ . نورو ته درناوی په مرکز کې د سولې او همغږۍ په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي .

نورو استوګنو ته د درناوی په موخه ، له تاسی څخه غوښتنه کيږی چی په پيټي شاتو کی د ماسخوتن له ۱۰ بجو څخه د سهار تر ۶ بجو پوری شوراوزوږ (غالمغال) ونکړئ .
تاسی کولای شئ چی هره ورځ خپل پوستی ليکونه ، شخصی وی او که ستاسی د پناه غوښتنی د کړنلاری په تړاو ، له رسيپشن څخه ترلاسه کړئ. که تاسی کوم ليک رارسيدلی وی ، ستاسی د بيج (کارټ) د شميری د ښوولو له لاری به تاسی په دی هکله خبر درکړل شی .
که تاسی خپل ټليفون ونلرئ ، کيدای شی چی د رسيپشن د ټليفون له لاری درته ټليفون وشی. ددی کار لپاره د رسيپشن په سالون کی د سهار له ۹ بجو څخه تر ۱۱-۱۵ بجو پوری ، د ماسپښين له ۲-۳۰ څخه تر ۵-۳۰ بجو پوری او د ماسخوتن له ۷-۳۰ څخه تر ۱۰ بجو پور ټاکل شوی دی .

## 2.9 مـــراجعين

مراجعين د مرکزله خوا د وضعه شويو مقرراتو په پام کې نيولو سره منل کيدلای شي .

يوازی هغه استوګن چی په پيټي شاتو کی له خپلی کورنۍ سره ژوند کوی ، کولای شی چی بهرنی مراجعين (ميلمانه) ولری . هغوی بايد په دی هکله د خپل کيس د مامور (case worker) اجازه ترلاسه کړی .
د مراجعين د مرکز دننه ته ننوتی نشی . د هغوی لپاره د رسيپشن ترڅنګه ، خو له مرکز څخه بهر، يو ځانګړی ځای ټاکل شوی دی .
همدغه شان ، هغه استوګن چی له خپلی کورنۍ سره ژوند کوی ، کولای شی چی د مرکز نور ميشت کسان د خپلی استوګنی په ځای کی ومنی . مجرد کسان نشی کولای چی نور ميشت کسان خپلی کوټی ته ومنی .
مجاز ملاقاتونه د سهار له ۹ بجو څخه دماسخوتن تر ۹ بجو پوری ترسره ترلاسه کيدلای شی .
CADE (د صغيرانو مرکز) ته له مرکز نه د بهر کسانو ورتګ منعه دی .
همدغه شان د مرکز د نورو برخو کوټو ته د Cade د ټنکيو ځوانانو ورتګ منعه دی .

## 2.10 په مرکز کې منظمه حاضري

تاسې په مرکز کې خپل ځای يوازی د منظمې حاضرۍ په صورت کې خونديِ ساتلای شئ . تاسې کولای شئ چې د مرکز په اجازه زيات نه زيات لس شپې له مرکز څخه بهر تيرې کړئ. له هغه پرته به ستاسې د خوب خونه بل چاته ورکړی شي . د مرکز له مخکينۍ اجازې پرته ستاسې ددريو پرله پسې شپو د ناسوبتيا (غيرحاضرۍ) په صورت کې هم ورته چلند کيږي . په دې صورت کې ستاسې شخصي لوازم ستاسې له کوټې څخه بهر ايستل کيږي . تاسې مجبور ياست چې د نوي ځای د ترلاسه کولو لپاره اړوندې (د dispatching) څانګې ته مراجعه وکړئ .

په مرکز کې به ستاسې شتون په منظمه توګه تر کنټرول لاندې نيول کيږي .

د پيټي شاتو مرکز د سهار له ۶ بجو څخه د سهار له ۲ بجو پوری پرانيستی دی . که تاسی د سهار له ۶ بجو څخه د سهار له ۲ بجو پوری په مرکز کی حاضر نه ياست ، داسی به وانګيرل شی چی شپه مو په کوم بل ځای کی تيره کړی ده .
تاسی ته ستاسی د رارسيدو په مهال يو الکترونيک بيج (کارټ) درکړل شوی دی . تاسی بايد هرځل له څرخی دروازو څخه د وتلو او راننوتلو په مهال د سکين (scane) کولو لپاره له هغه څخه کار واخلئ . ستاسی بيج د ليږدولو (انتقال) وړ نه دی ، نو له دی کبله هغه بل هيچاته ورکول کيدلای نشی .

تاسی باید خپل بیج تل له ځانه سره وګرزوئ او که د مرکز کوم کارکوونکی یی درڅخه وغواړئ ، باید ورته ورویی ښایاست . تاسی به اړتیا ولرئ ترڅوپه مرکزکی بیلابیلو ځانګو ته د ورتګ په مهال هم هغه ښکاره کړئ .
که چیری د ۳ پرله پسی شپو لپاره له مرکز څخه بهر پاتی کیږئ ، باید خپل بیج رسیپشن ته وسپارئ . په داسی کولو سره رسیپشن ته خبر ورکوئ او مونږ به پوهیږو چی تاسی غواړئ له مرکز څخه غایب اوسی . له بیج څخه ناوړه ګټه اخیستنه د سزا وړ ده . د بیج د ورکیدو یا کار نه کولو په صورت کی باید ژرترژره اداری ، او که هغه تړلی وی، رسیپشن ته خبر ورکړئ .
که تاسی ټرانزیټ ویزه ولرئ ، باید له جمعی څخه تر یکشنبی پوری په مرکز کی شپه تیره نکړئ . خو که په نورو شپو کی داسی وکړئ ، کیدای شی خپل ځای له لاسه ورکړئ او بیا به ښایی د نوی ځای غوښتنی ته اړ یاست .

## 2.11 د خبرتیا (معلومات ورکولو) دنده

تاسي باید خپل اړوند ټولنیز کارکوونکی د خپلي اداري دوسيي په هکله تل باخبره وساتئ .

## 2.12 له مرکز نه بهر د لیدو کتو وعدې (appointments)

تاسې مجبوره یاست چې ټولې هغه روغتیایي یا رواني وعدې چې له مرکز نه بهر يې لرئ ، په کلکه په پام کې ونیسئ .

له تاسی څخه دا هم غوښتنه کیږی چی په پیتی شاتو کی د خپلی استوګنی په موده کی د مرکز بیلابیلو ټاکل شویو ملاقاتونو ته حاضر شئ . که تاسی کوم ملاقات ته چی له مرکز سره مو ټاکلی دی ، ورنشئ ، نو له تاسی څخه به د شوی لګښت د تاوان غوښتنه وشی .

## 2.13 له مرکزنه دبهر خدمتونو لپاره د پیسو ورکړه

که تاسې د مرک د ادرې له اجازې پرته له مرکز نه بهر له کومې ځانګې څخه د کوم خدمت غوښتنه وکړې ، د هغه لګښت به هم ستاسې په غاړه وي .

تاسی کولای شئ چی تر ځانګړو شرایطولاندی له پیتی شاتو څخه د بس ټکټ ترلاسه کړئ ، پدی شرط چی دغه چاره ستاسی د پناه غوښتنی له کړنلارئ ، روغتیایی معالجی یا د زده کړی کوم کورس ته له تګ سره چی ورکی داخل شوی یاست ، تړاو ولری . په دی اړه د حالاتو له مخی خپل کیس افیسر اویا د Bizzi ټیم ته مراجعه وکړئ .
خو که تاسی د مرکز له تصویب پرته له عامه ټرانسپورټ ، ټکسیانو یا امبولانسونو څخه استفاده وکړئ ، باید یسی یی پخپله ورکړئ او مرکز به بیا تاسی ته د پیسو د بیرته درکولو په هکله اقدام وکړی .

## 2.14 فزیکي یا لفظي تیری

په بل چا باندې فزیکي یا لفظي تیری منعه دی . د هر هغه زیان په اړوند چې ستاسې د ارادي عمل له کبله کوم شخص با شتمنئ ته وررسیږي ، اړوندو ادارو (پولیس .. او داسې نورو) ته رپوټ ورکول کیږي .

## 2.15 راسیزم او تبعیض

د راسیزم (نژادي توپیر) پر بنا چلند اوهمدغه شان د راسیزم یا تبعیض هڅول منعه دي . هر راسیستي عمل د راسیزم او تبعیض پرخلاف د قوانینو له مخې د شکایت وړ ګرزیدلای شي .

بلجیم یو آزاد او زغمونکی هیواد دی . په دې هیواد کې هر ډول توپیر د محکومیت وړ دی او د نارینه و او ښځو ترمنځ برابرئ ته لومړیتوب ورکول کیږي . مونږددغو اصولو د درناوي په اړه تاسې ته ډاډ درکوو . مونږ له تاسې غوښتنه کوو چې په خپل ورځني ژوند کې ددغو ارزښتونو درناوی وکړئ .

## 2.16 مخدره توکي او الکول

په مرکز کې د ماریجوانا او چرسو ... په ګډون د مخدره موادو او الکلو ساتل او استعمال منعه دی . پر دې برسیره ، په مرکز کې د الکولو ، مخدره موادو او داسې نورو ورته توکو له استعمال څخه راپیدا شوی ستونزه- ایز چلند منعه دی .

## 2.17 تمباکـــو

په مرکز کې له هغو ټاکلو ځایو په استثنأ چې د سګریټ څکوونکو لپاره ځانګړي شوي دي ، د سګریټو څکل منعه دي .

په پيتي شاتو کي يوازي يو دفتر («۴۴ لمبر کوټه») ددغه کار لپاره ټاکل شوی ده .

**2.18 خطرناکه توکي**

هرهغه توکی چې د مرکز نورو استوګنو یا کارکوونکو ته فزیکي زيان یا د مرکز شتمنی ته مادي زيان اړولی شي ، منعه دی .

په پيتي شاتو کي ستاسی کوټه (د الماری په ګډون) پلټل کيږی . پلټنه د کورنيو مقرراتو سره سمه د دوو کارکوونکو له خوا ترسره کيږی ، ترڅو دا خبره يقيني کړی چې ستاسی له خوا له مقرراتو څخه سرغړونه نه کيږی ، او داچې په مرکز کی د نظافت او روغتياساتنی (حفظ الصحی) سطحه په پام کی نيول کيږی . هر ممنوعه توکی ضبط (مصادره) کيږی (د ممنوعه توکو ليست په لومړی ګڼه ضميمه کی کتلای شی) .

**2.19 کورني څاروي**

په مرکز کي د کورنيو څارويو ساتل منعه دي .

**د هرچا لپاره د استراحت او سوکالی او په يوه خوندي چاپيريال کي د ژوندانه د تضمينولو په مقصد په مرکز کي ځيني شيان منعه کړی شوي دی.**

**3 په مرکز کي د نظم ، خوندي توب او سولي د رامنځ ته کولو په مقصد له مقرراتو څخه د جدي سرغړونو په وړاندې له سزاګانو يا دسپلينې اقداماتو څخه کار اخيستل کيدی شي .**

**ســــــزاګاني**

تاسي ته له کورنيو مقرراتو څخه د جدي سرغړوني په وړاندې سزا درکول کيدلای شي . د سزا ډول د سرغړوني د جدي والي او دا چې نوموړې سرغړونه په کومو حالاتو کي ترسره شوې ده ، ټاکل کيږي.

د مرکز ټول کارکوونکي ددغي قاعدې تابع دي . د هرناوړه چلند په وړاندې د مرکز مدير په عادلانه او عيني توګه ستاسي د خبرود اوريدو زمينه برابروي او په دې اړه قضاوت کوي چې آيا د کومي سزا ټاکل اړين دي او که نه . د مرکز اداره د اړتيا په صورت کي ټاکل شوې سزا د ترسره شوې سرغړوني په تناسب پلي کوي . تاسي ته ددغې پريکړې په هکله په ليکلي توګه خبر درکول کيږي او درڅخه غوښتنه کيږي چې نوموړی سند لاسليک کړی .

لاندينۍ سزاګاني ټاکل کيدلای شي :

1. په ټولنيزه دوسيه کي له درجيدو سره رسمي اخطار
2. د مرکز په فعاليتونو کي له ګډون څخه موقتي بې برخي توب .
3. د پيسو په وړاندې د ټولنيزو خدمتونو له ترسره کولو څخه موقتي بې برخي توب .
4. له ځينو خدمتونو څخه محدود برخمن توب .
5. د ځينو دندو اجباري ترسره کول . ددغه شان دندو نابشپړ يا بيخي نه ترسره کول کيدای شي چې نوې سرغړونه وشميرل شي .
6. بل مرکز ته ليږدونه .
7. . د مرستی له شبکی څخه مؤقتی ايستل.

**دسپليني اقدامات**

د مرکزنظم ، خونديِ توب او سولې ته د خطر د رامنځته کيدو په صورت کې د مرکز اداره يا مسوول شخص کولای شي چې په ښه توګه د مرکزد اداري او په هغه کې کې د آرامه ټولنيز ژوند د تأمين په مقصد اړين اقدامات ترلاس لاندې ونيسي .

که چيرې د کوم استوګن په اړوند ددسپليني اقدام پريکړه وشي ، نوموړي شخص ته په دی هکله په ليکلي توګه خبر ورکول کيږي . که دغه شان اقدام په ټولنيز ژوندانه پورې مربوط يوعمومي  دسپليني اقدام وي، دهغه په هکله د عمومي خبرتياو پر ځانګړې دړه (تختې) باندې خبرتيا ځړول کيږي .

<u>په پيټی شاتو کی</u> ستاسی د استوګنی په موده کی . که چيری تاسی بايد د کومی انضباطی سزا او يا د قانون او نظم د تأمينولو په موخه د کوم نيول شوی تدبير له امله له مرکز څخه ولاړ شی ، بايد د درکړی شوی سزا يا نيول شوی تدبير له دراورولو وروسته بی له ځنډه مرکز خوشی کړی . مرکزبه ستاسی د روانيدو په تړاو ټول اړين اقدامات (ستاسی سامان ، ورځنی جوب خرڅ ، ستاسی د ټولنيز کيس د کاری دوسيی او روغتيايی دوسيی ليږل ، او داسی نور) ترسره کړی .

## 4 د اپيل يا شکايت د وړاندې کولو لپاره کومې کړنلارې شتون لري ؟

**د سزاګانو په وړاندې اپيل**

تاسي پر ۴ ، ۵ او ۶ ګڼو سزاګانو باندې د بياکتنې لپاره د اپيل کولو حق لرئ . دغه اپيل د مؤسسې لوی مدير (يا هغه شخص ته چې د مؤسسې له خوا ټاکل شوی او په رسميت پيژندل شوی وي)، د سزا په هکله د خبرتيا له نيټې څخه د ۵ ورځو په ترڅ کې د يوه ليک په ملتيا وړاندې کيږي . اپيل له دوو ملي ژبو څخه په يوې اويا په انګليسي ژبه وړاندې کيږي. اپيل په سزا کې لاس وهنه (مداخله) نه کوي . تاسي بايد د خپل اپيل په باب د پريکړې لپاره د انتظار په موده کې خپله ټاکل شوې سزا تيره کړئ .

**شکايتــــــونه**

په مرکز کې د ژوندانه د شرايطو او يا د کورني مقرراتو د پلي کولو په هکله د شکايت دوړاندې کولو لپاره بايد تاسې د مرکز له مدير يا مسوول شخص سره اړيکی ونيسئ . ستاسې شکايت به د ۷ (اوو) رسمي ورځو په ترڅ کې تر څيړنې لاندې ونيول شي .





تاسی کولای شئ چی <u>په پيټی شاتو کی</u> د د کړنلاری د تعقيبولو په تړاو له خپل ټولنيز کارکوونکی سره خبری وکړئ . که تاسی له نورو استوګنو سره ستونزی ولرئ ، کولای شئ د هغو په هکله کارکوونکو ( مرستندويه کارکوونکو ، د رسيپش کار کوونکو ، او نورو) ته خبر ورکړئ .



**اضــافي معلومات ؟**




د کورنيو مقرراتو او يا په مرکز کې ستاسې د استوګنې په موده کې ستاسې د حقوقو په اړه هرډول پوښتنه له خيل ټولنيز کارکوونکي څخه کولی شئ .

زه ، ............................................... اقرار کوم چې له دغو کورنيو مقرراتو سره مې اشنايي پيدا کړې او ددغه سند يوه کاپي مې چې په هغه ژبه چې زه پرې پوهيږم راته توضيح شوه ، ترلاسه کړه .

Special rules for the Klein Kasteeltje
**Appendix 1 – Forbidden items**


| | **FORBIDDEN – ممنوعه توکي** | |
|---|---|---|
|  | Arms / weapons<br>وسلې | See attached list for more information.<br>د زياتو معلوماتو لپاره ضميمه ليست وګورئ |
|  | Kitchen equipment<br>د پخلنځي سامان | Do not take glasses, plates, cups, cutlery, ... from the refectory.<br>د ډوډۍ خوړلو له خوني څخه ګيلاسونه، غابونه، پيالې، چوړکی ...او داسې نور مه باسئ |
|  | Extension cord<br>د بريښنا ليږدوونکي وسايل | Including domino plugs.<br>د برقي څو ساکټه ليږدوونکو په شمول |
|  | Pets<br>اهلي ځاروي | |
|  | Drugs<br>مخدره توکي | Both hard and soft drugs.<br>دواړه سپک او درانه مخدره توکي |
|  | Smoking<br>سګريټ څکل | Smoking is only allowed outside or in designated areas<br>د سګريټو څکل يوازې بهر يا ټاکلو ځايونو کې مجاز دي |
|  | Dangerous products<br>خطرناکه توکي | |
|  | Iron<br>أتو | |
|  | TV<br>تلويزيون | In the BCD rooms (a portable DVD is permitted).<br>د BCD په خونو کې (د يوه ليږديدونکي DVD استعمال مجاز دی) |
|  | Electric kettle<br>برقي چايجوشه | |
|  | Lighting fires<br>د اور بلول | Including candles, scented sticks, incense sticks, ...<br>د شمعو او خوشبويه (عودو) د ډکو په ګډون |

| | | |
|---|---|---|
|  | Alcoholic drinks<br>د الکولو څښاک | |
|  | Tools (electrical and other)<br>آلات (برقي او نور) | |
|  | Bicycle (adults)<br>بایسکل (د لویانو لپاره) | |
|  | Broken mirror<br>ماته هینداره | Mirror = maximum 200 cm², framed.<br>هینداره = زیات نه زیات 200 cm² ، چوکاټ شوي |
|  | Computer<br>کمپیوټر | Laptop is allowed.<br>لپ ټاپ مجاز دی |

| **BEPERKT – LIMITE – LIMITED – محـــدود** | | |
|---|---|---|
|  | Luggage: maximum 1 m³ per person<br>بګاژ: د یوه تن لپاره زیات نه زیات 1 m³ | =~ 2 suitcases (under the bed) + 1 bag (on cupboard)<br>2 بکسونه (د چپرکټ لاندې) + 1 بکس د الماری پرسر= |
|  | Electrical appliances: maximum 300 W<br>برقي وسایل: زیات نه زیات 300 W | |
|  | Cuddly toys: maximum 3 per child<br>د ماشومانودلوبونرم شیان: د هرماشوم لپاره زیات نه زیات 3 | |
|  | Prayer carpet: 1 per person<br>جای نماز: د یوه تن لپاره | Store in cupboard<br>باید په الماری کې وساتل شي |
|  | Children's bicycle: 1 per child –12 years<br>د ماشوم بایسکل: د یوه ماشوم لپاره 1 – تر 12 کلنی پوري | Not in the rooms in Block BCD and the medical rooms<br>د BCDبلاک په خونو او روغتیایي خونوکي ددرولو اجازه نشته |

| **WITH PRIOR APPROVAL**<br>د مخکینی اجازي له مخي | | |
|---|---|---|
|  | Carpet<br>غالی (فرش) | Only fire resistant floor carpets will be allowed.<br>یوازي د اور په وړاندې مقاومت لرونکی فرش مجاز دی |

| | | |
|---|---|---|
|  | Posters, pictures, displays, …<br>پوسټرونه، عکسونه، نورانځورونه ... | To be fixed correctly and no fire load.<br>باید په سمه توګه نصب او له اور څخه لیرې وي |
|  | Party decorations<br>د جشني محفلونو تزئینات | To be fixed correctly and non-combustible.<br>باید په سمه توګه نصب شي او اور اخیستونکي نه وي |
|  | TV<br>تلویزیون | In family rooms BCD and medical rooms B<br>د BCD په فامیلي خونو او د «ب» په روغتیایي خونو کې |
|  | Electric kettle<br>برقي چایجوشه | Only in studios Bloc EF<br>یوازې د EF بلاک په سټډیوګانو کې |

| **ONLY PC** | | |
|---|---|---|
|  | Furniture, blankets and kitchen equipment<br>فرنیچر، بړستنې او د پخلنځي سامان | No kitchen equipment from main kitchen, Rf-blankets only<br>له عمومي پخلنځي څخه د سامان د اخیستو اجازه نشته، یوازې د Rf بړستنې مجاز دي |
|  | TV<br>تلویزیون | In studios EF and medical rooms F<br>د EF په سټډیوګانو او د F په روغتیایي خونو کې |

## APPENDIX – ضمیمه
## ARMS/WEAPONS – و سـلې

**Are prohibited:**

- weapons designed exclusively for military use, which includes automatic firearms;
- spring and gushing knives with lock (also called cutting knife or stiletto), butterfly knives, throwing knives, throwing stars (also known as shuriken), knuckle-buster;
- arms that have the appearance of another object (e.g. a knife hidden in a belt or a pen);
- sword sticks and gun sticks (also known as bats) or objects that can be used as such;
- gun clubs and sticks (also known as bats or sticks);
- firearms that have been changed to hide or are hidden in another object (such as a shotgun with sawn barrel);
- electroshock weapons;
- all kinds of "self-defence" aerosols (sprays);
- folding rifles;
- nunchaku (**there is no exception** for oriental martial arts);
- silencers (whether or not mounted on a firearm), and other components or accessories that make a firearm prohibited;
- ammunition;
- daggers, dirk knives and folding knives with a non-automatic locking mechanism.

**منعه دي:**

- ټولي هغه وسلي چي منحصراً د پوځي استعمال لپاره جوړې شوې وي او اتوماتيکي وسلي پکي شاملي دي؛
- سپرينګي او چټک خلاصيدونکي چاکوګان چي کلپ ولري (کوم چي د غوښونکو چاکوګانو او stiletto په نامه هم ياديږي)؛ پتنګي(butterfly) چاکوګان ، ګوزاريدونکي چاکوګان، ګوزاريدونکي ستوري (چي د shuriken په نامه هم ياديږي)، پنجه بوکس؛
- هغه وسلي چي ظاهري بڼه يې د کوم بل جسم په څير وي (لکه داسي چاکو چي په کمربند يا قلم کي پټ کړی شوی وي)؛
- توره لرونکي ډنډې يا ټوپکي لکړې (چي د «بيټ» په نامه هم ياديږي) ياداسي کوم بل شی چي د ورته هدف لپاره کارول کيږي؛
- ټوپکي ډنډې يا لکړې (چي bate يا stick هم ورته وايی)؛
- هغه ناريه وسلي چي د پټولو په مقصد پکي بدلون راوستل شوی وي او يا په کوم بل شي کي پټي کړی شوي وي (لکه د swan-barrel لرونکی ټوپک)؛
- د «ځاني دفاع» د شيندل (spray) کيدونکو ګازونو ټول ډولونه؛
- قاتيدونکي ټوپکونه؛
- نون-چا-کو (د ختيځ *martial arts* سپورټونولپاره استثنا نشته)؛
- د غږ چوپوونکي آلې (که په کومه ناريه وسله نصب شوې وي يا نه)، او د وسلو نورې ترکيبوونکي برخي او پالتو سامان؛
- مهمات؛
- خنجرونه، چړې او د کلپيدو د نااتوماتيکه ميکانيزم لرونکي قاتيدونکوي چاکوګان.